پوهندوی آصف بهاند/ مختصات افغانستان، بخش: نخبگان و مشاهیر ۳۰/۱۱/۲۰۲۲

# د استاد اسحق نگارگر د عالمانه ژوند مشعل

## (د استاد محمد اسحق نگارگر لومړی تلین)




یو کال وړاندې استاد اسحق نگارگر له ژوندیو نه لار بېله کړه، دېرې هیلې یې له ځان سره په ومرووړلې او ښایي په خپه زړه یې ځینې ناترسره شوې هیلې له ځان سره په سپینه تونه کې یو ځای تورو خاورو ته یوړې.

د ۲۰۲۱ م کال د نومبر پر دېرشمه (۳۰مه) د زماني نامرادو او تندو بادونو په دېر ظالمانه ډول د افغانستان پر خزان وهلې بڼ باندې تند بادونه راوالوزول او د افغانستان د فرهنگ یو نامتو استاد یې د تل لپاره له فرهنگي کاروان څخه بېل کړ، استاد محمداسحق نگارگر یې له موږ څخه واخیست، داسې یو قلموال یې له خپلو شاگردانو او مینوالو څخه بېل کړ چې هره ورځ به یې شاگردان او مینوال لارښونکو او استادانه لیکنو ته سترگې پرلاره وو او د ده له عالمانه لیکنو څخه به یې زدکړې کولې، په دې ډول ښاغلی نگارگر خپله لاره له موږ نه بېله کړه. له فرهنگي کاروان څخه د استاد نگارگر جلا کېدل، د افغانستان د فرهنگیانو له پاره یوه لویه غمیزه وه.

یو کال مخکې د نورو خواشنونکو پیامونو په لړ کې، افغان جرمن پورتال د استاد نگارگر د مړیني لپاره دا خواشینونکی پیام خپور کړ:«



به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

بسم الله الرحمن الرحیم

## د خواخوږۍ او تسلیت پیام

په خواشینۍ سره مو د لوی خپګان خبر تر لاسه کړ چې ښساري پوه، شاعر، ټولنپېژندونکی، څېړونکی، شننونکی، عارف او بېدل پېژندونکی، د افغانستان د فرهنګ د ډګر پیاوړی او پېژندل شوی شخصیت، استاد محمد اسحق نګارګر له دې نړۍ څخه وکوچید.

انالله و اناالیه راجعون

په اوسني فرهنګي بهیر کې د استاد اسحق نګارګر درېځ ټولو ته معلوم دی، استاد د عمر تر پایه د ملي فکر په درلودلو سره، خپله پوهه له بېلابېلو لارو وکاروله تر څو د افغانستان نوی نسل په مدرنه بنه وروزل شي، هرڅه یې چې د ذهن په ګومبزه کې درلودل، په استادانه مهربانۍ سره یې د خپلو شاګردانو، لارویانو او مینوالو په مخ کې ایښودل. هیڅکله د حقایقو په ویلو و نه ډار شو، قلم یې د تېرې توري په څېر ټولنیزې سیاسي او فرهنګي نیمګړتیاوې راسپړلې او حلالري یې په نښه کولې.

له افغان جرمن پورتال سره یې، د دې پورتال له رامنځته کېدو سره سم خپله قلمي همکاري پیل، او بیا یې د عمر تر پایه جاري وساتله.

افغان جرمن کاري ټیم د علمي فرهنګي کړیو له پاره د استاد نګارګر نه شتون یوه نه جبیره کېدونکې ضایعه ګڼي چې دا تشه به تر ډېرو پورې ډکه نه شي.

افغان جرمن کاري ټیم د استاد نګارګر له کورنۍ او لارویانو سره په دې لوی ویر کې ځان شریک ګڼي، استاد ته جنتونه او کورنۍ ته یې د لوی زغم هیله کوي.

افغان جرمن پورتال کاري ټیم»

د استاد نګارګر د فرهنګي ژوند ثمر په سلګونه مقالې، شعرونه، ویدیو کلیپونه او لکچرونه دي چې یوازې په افغان جرمن پورتال کې یې دوه سوه اته پنځوس (۲۵۸) مطالب خوندي دي.

دلته به د استاد نګارګر د لومړي تلین د درناوي په پار، د ده لنده بیوګرافي راواخلم:

«استاد محمد اسحاق نګارګر در سال 1318 شمسی مطابق با 1939 میلادی در ام البلادِ بلخ در افغانستان دیده به جهان گشوده است.

بعد از فراغت از لیسه، تحصیلات عالی اش را در رشته زبان و ادبیات در پوهنځی علوم بشری و ادبیات پوهنتون کابل به انجام رسانیده است.

بعد از فراغت از پوهنتون کابل نخست به صفت اسیستانت پروفیسور و بعد ها به حیث استاد در پوهنځی ادبیات و علوم بشری تدریس نموده اند.

در سال 1984 میلادی از کشورش افغانستان مهاجرت نموده، و به پناهندگان هموطنش در کشور پاکستان پیوسته است. در آنجا با انجمن های خارجی کمک رسانیی غیر دولتی همکاری ها داشته است. از جمله مدتی به تدریس زبان دری ، پشتو و انگلیسی پرداخته ، زمانی هم به حیث مشاور


به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

تـدریسی همکاری نموده و گاهی هم بالای طرح تدبیـقی دستور زبان دری برای معلمان و طرح سواد آموزی صوتی برای شاگردان کار های ارجناکی نموده اند.

استاد "نگارگر" فعلاً درشهر برمنگهم انگلستان سکونت داشت و دیپلوم ماستری در تـدریس زبان انگلیسی چون زبان دوم، از پوهـنتون همان شهر بدست آورده بود. در انگلستان نیـز به تدریس زبان انگلیسی و پشتو پرداخته و با رادیوی بی بی سی نیز همکار بود.

مقالات و نوشته های سیاسی، اجتماعی و فرهنگیِ زیادی از خامــه توانای این دانشمند گـرانمایه در جرایـد و نشرات مطبوعات داخـل و خـارج افغانستان به چاپ رسیده است. همچنان رساله ای پُر ارجی از ایشان بنام «نقد و تبصره بر جلد دوم تاریخ غبار» در شهرِ پشاور پاکستان به طبع گردیده است.»

که څه هم استاد نګارګر په فزيکي ډول له موږ سره نه شته، خو له ده راپاتې مقالې، ويديو کلپونه، لکچرونه، افکار، اثار او شعرونه د ده د پوهې د يو روڼ مشعل په ډول د فرهنګي کړيو محفلونه رڼا کړي دي، د تل لپاره به د استاد د پوهې دا مشعل د ده د پلويانو، لارويانو او شاګردان په لاس کې وي، د دې مشعل په رڼا کې به مخ پر وړاندې دورمي او د نګارګر صاحب لار به تعـقيـبـوي.

**روح يې ښاد**

**او**

**ياد يې تلپاتې**


به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند